مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هوسی حسین‌خیل

۲۰۲۴/۰۱/۰۸

دا مو د وطن حال دی

غوږ شه د دې ټپې، ټپې وطن کیسو ته
د ناامیدو نجونو چیغو او اسویلو ته

وطن باندې مین ځوانان زړه توري ګرځي
مسافری یې کړه قبوله او بی کوره ګرځي

حیران به شي د جهالت دغو تورو تیارو ته
وچو دښتو، پرانیستو مدرسو او ټرلیو مکتبوته

د نجونو په برخه بس حجاب او چادري ده
آزادی او لوړ مقام د پټاو او انتحاري ته

په یخوشپو په وطن خواره تورکارغان شول
عدالت نه پیژنی خو نومونه یې عادلان شول

حلم، علم، محبت او شفقت چې د اسلام ارکان دي
په دې وطن یې یتیم، مظلوم اوعوام په ارمان دي

هوسی حسین‌خیل
۲۲/۱۰/۱۴۰۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ